دمقالی لیکونکي : ار. جفری سمت (R.Jeffrey Smith).
منبع اودخپریدو نیته : آنتی وار «۲۰۱۴-۵-۴».
ژباړونکي : پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل» .

---

## دامریکی د متحده ایالاتو پوځ په افغانستان کی داداری
## فساد دله مینځه وړلو دپاره هیڅ نقش تر سره ونکړ

## The US Military Was No Match For Afghanistan's Corruption

## پنتاګون نه یوازی چی په افغانستان کی اداری فساد
## له مینځه ونه ویوړل بلکه نور یی هم لابسي بدتر کړ

## The Pentagon Wasn't Just defeated by the country's graft- the Pentagon made it worse



دنړی په سطح کی ډیروتلی پوځ ونشو کړلی چي په افغانستان کی کلک فرهنګی ستونزی حل کړی پورتنی انځور د رومیو ګازاد(Romeo Gacad/AFP/Getty Images) پواسطه سره .

کله چی په بروکسل کی دمارچ دمیاشتی په «۲۶» ښاغلی اوباما دناتو دغړو هیوادونو د افسرانو اولوړپوړو چارواکی سره ولیدل ، هغه پخپل سرخلاص او عمومی وینا کی خپل خوشبینی دافغانستان د بیا رغونی په اړه داسی څرګند کړ ( « مونږ دافغانستان دبیا رغونی دپاره «۱۲۰» بیلیون دالر بیل کړی یا چمتو کړی دی کوم چی زمونږ له وتلو څخه وروسته ( افغانستان آباد ، آزاد سمسور اوله هر پلوه دامن اودثبات یو هیواد اوسی اودافغانستان خلک په ډیر امنیت اومصونیت سره ژوند وکړی )چی مونږ افغانستان سمسوروو .

په هرصورت یوه میاشتی مخکی دامریکی د متحده ایالاتو دیوځ لوړپوړی چاروا‌کي په ځانګړی اوخصوصی بڼی سره پرافغانستان باندی دخپل مداخلی څخه پر(۱۲) کلن راپاتی میراث باندی یوشد ید اوهراړخیزداوری اوقضاوت وکړل اوپه دی اړه خپل لوی درستیز ته په افغانستان کی د خپل خدمتونو دپا یلی په اړین یو راپور وړاندی کړل، اوپه نوموړی راپورکی داسی څرګند کړل چي په افغانستان کی د هغه ژور فرهنګی ثابت اداری فساد دله مینځه وړلو د پاره زمونږ لوړ پوړی چاروا‌کی نه یوائځی داچي دغرب هڅی را ونه بلل بلکه د موجوده فساد په اړه د بی پروایی په نتیجه کی فسا د لاپسی وده وکړ اواوس د خپل ودی چټک پړاونه یو بل پسی وهی اودا ځکه چی دفساد مخه چاونه نیول .

دغه راپور چی مو پورته ورڅخه یادونه و کړ دامریکی دمتحده ایالاتو دلوی درستیز دیوی ځا نګی دځا نګړی کارپوه ګروپ په شمول د (یولس ستوری یابیرق لرونکی ) عمومی افسرانو له خوا دبی شمیرو اړینوخلکو اودحکومت دماهرانو او مسولو مقاما تو سره دمشوری پر بنیاد چمتو شوی دي چی دراتلونکو دپاره دیو درس اودیوعبرت په بڼه پاتی شی اودغه راپور کوم چی د راتلونکو دجلب نظر اود یو عبرت په منظور چمتو شوی دی دیوی نظامی مسول ویاند په وینا سره دغه راپور د امریکی د متحده ایالاتو د لوړپوړو قوما ند ا نانوولخوا څخه هم دتاید وړ وګرځید .

په دی راپورکی لاندنی پایلی «نتیجی» په ګوته شوي دي:

* دامریکی دمتحده ایالاتو دنظامی قوتونود تیرو کړنو ته په نظر اچونی سره کولای شوداسی ووایو چی دامریکی دمتحده ایالاتوچاروا‌کی او ستر نظامی افسران باید دافغانستان دهیواد یادداسی یو هیوادکوم چي په هغه کي خصوصی معامله ګری دعمومی سیاست ګذاری تر سخت ولکی لاندی پروت دی باید څرنګه مبارزه او یا د د دی ډول معا مله ګری په وړاندی څه ډول مقا بله کړای وای.
* دیادونی بل مهم مطلب دا چی دامریکی دمتحده ایالاتو چاروا‌کی په اوایلو کی دجنګ سالارانو سره په اتحاد اوملګرتیا کی هغو ته داسی شرایط او حالات

مساعد وګرځول کوم چې هغوی له دی نه چې دناقضین حقوق بشر او دجنګی جنایاتو سره په ککړتیا کی بایدجزا لیدلی وای داسی حالاتو سره مخا مخ شو چې دهغو دحیرانتیا سبب هم وګرځیدل .

* واشنګټن دافغانستان ستونزی نه داچې حل نکړل بلکه ستونزی دبد و نه لا پسی بد تر کړل ، اوهغه داچی لکه باد راوړی نقده دالری پیسی په میلینونو دالر په حاتم طایی مابانه بنی سره بی له دی چې دقانونی لارو څخه افغانستان ته دپلان کړ شوی ریفورمونو د بشپړید و د پاره لیږلی وای ونه لیږل بلکه نوموړی نقده دالرونه د اشخاصو اود افرادو او یا د غیر دولتی خپل خوښی سازمانونو په د سترس کی واچول.
* په افغانستان کی دامریکی د متحده ایالاتو افسرانو اودملکی خدماتو کارکونکی په ورته بنی سره بی له دی چې دافغانی لوری قراردادیانو اوټیکه دارانو سره په معامله کی پاملرنه کړای وای اویا دهغو کارونه دقرارد د مندرجا تو په نظر کی نیولو سره څارلی وای په ډیربی مسولیتی او په یو اړخیز بنی سره ټول اختیارات هغو ته وسپارل کوم چې هغوی دهمدی فرصت څخه په ګټی اخیستو لوی پانګوالان وګرځیدل .

ښاغلی اوبا ما په مستقیم بنی سره ددی بدو خبروځنی خبری په هغه مطبوعاتی ناسته کی چي دامریکی دمتحده ایالاتو دنظامی قوتونو له افغانستان څخه دوتلو په اړین یوکال دمخه دایر شوی وه له مختلفو جوانبو اوهم دامریکی دمتحده ایالاتو دسمندری پوځ دقوماندان جان الن(John Allen) له طرفه واورید . اودنوموړی راپور پر بنیاد جنرال الن جمهور ریس اوبا ما ته وویل : په افغانستان کی فساد او بډی اخیستنه نه دپوځ بی کفایتی ، نه دپولیسو دقوتونو دکمښت اونه هم په پاکستان کی دپناه وړونکو طا لبا نو پوری اړین عوامل دي- بلکه فساد اوبډی اخیستنه په دی هیواد کی هغه غټه ستونزه دی کوم چې داوږدی مودی راهیسی زمونږ دامریکایانو دنګرانی په یوستر عامل بدل شوی دی یعنی هغه عا مل کوم چې په ستراتیژیکی بنی سره افغانستان تر تهد ید لاندی راوستی دی .

دجنرال الن ارزیابی دفساد په اړه له ځنو اړخونو څخه چندان حیرانونکي نه بریښی. دبلی خوا څخه داوباما اداره په دی اند ینښنه دی چې له افغانستان څخه د خپل نظامی قوتونو دراوتلو جریان چټک کړی یعنی د(۲۰۱۰) کال له (۶۳۵۰۰) مجموعی موجوده سرتیرو څخه تر بل کاله پوری (۵۰۰۰) سرتیری کم کړی اوهغه هم ددی هیواد دچارواکی دغل سالاری( Kleptocratic په سیاست کی دغه اصطلاح یعنی دزد سالاری هغه دولت ته اشاره کوی چې دهغه دولت لوړپوړی چارواکی دهیواد عامه خلک دخپل ګټو دترلاسه کولو د پاره قربانوی اومعمولاً د دولت له بودجی څخه اختلاس کوی .....

له ویکی پید یا څخه   ..مترجم ) د سیاسی فرهنګ  له امله .
دکنګرس کارپوها نو اوآزاد ډلی او جان ساپکو« John F. Sopko »  دافغانستان د بیا رغونی د پا ره  دا مریکی د متحده ایالاتو ځا نګړی ناظر  ټول  په یو   غږ اوپه ورته بڼی سره پرواشنګټن اودهغه پر متحد ینو با ندی دیو نیوکی په ترڅ کی داسی څرګند وی چی همدوی یعنی واشنګټن اودهغه متحد ین وه کوم چی په افغانستان کی مبارزه د ما تی سره مخامخ شو  اوهغه هیواد  دیو سخت اوکلک  جنګ ځپلی هیواد نوم تر لاسه کړ چی لا تراوسه پوری دستونزو او پرابلمونو سره لاس په ګریوان دي
بی ویلو دی پاتي نشي  چی دامریکی دستردرستیز په راپورکی پردوو مهمو دلیلونو باندی ډیر ټینګار  شوی  اودهغه دوه دلیلونو څخه  یوه  یي دا چي  اوس د امریکی د لوړ پوړو او پوهو افسرانو ته دا با ور تر لاسه شوی  چي پر افغانستان با ندی نظامی یرغل یوه مهمه فاجعه ګڼلی شو  یعنی هغه فاجعه چی دهغه عامل دیو غیرنظامی اوغیر قانونی چارواکوغیر موجهه پریکړه وه کوم چی ملی اقتصا د ته ستر ضرروروسول، هغوی همدارنګه دامریکی پوځیان په دی ملامتوی  چی هغو  په افغانستان  کی پرتلپا تی ګډوډی باندی  پوه نه وه  او هم  د امریکی  افسران  په دی  وجهه  ګرم  بلل کیږی  چي  هغوی دافغانستان له سنتی دودونو اورواجونو سره په بی خبری اود اصلی ریفورمونو  د خراب مدیریت اود محلی کمزورو شریکا نو سره په ګډه هڅي هغه څه وکړل  چی  دافغانستان دخلکو دپاره ډ یری ستونزی وزیږول   اوبله ډیر مهم نیوکی دادی چی ځنی مسولو کړیو ځنی مهم رسمی اسناد یا له مینځه وړلی اویا یی ورکه  کړی دی ، هغه  اسناد  کوم  چی دهغه له مخی  به ځنی مهم مطالب تر لاسه شوی وای ، داهغه څه وه چی جنرال سوپکو (Sopko) دامریکی دمتحده ایالاتودافغانستان دبیا رغونی دپاره ځانګړی ناظرپه ډاګه کړ.
دستونزی  ژورتیا دی با ید روښا نه شي  اوهغه داچي په راپورکی راغلی دی چی دټول پوښتنو څخه داسی  څرګند شوی اوهغه داچي دافغانستان  خلک  اوس پوره  په دی با ور دی  چی د هغو محلی  رسمی چارواکي  دهغو له قوت اوله زورڅخه  ناوړی ګټی راپورته کړی  اودا په دی معنی چی ددولت اکثر واکمن مقامات پخپله مفسد  او  په فساد سره ککړ ډلی ټپلی دي.  اودبلی خوا څخه دافغانستان ځنی خلک په دی باور دی  یاداسی خپل نظرښکاره کوی چی طالبان  اودځنو په اصطلاح سره همغه تاریک اوګمراه کونکی قضایی  مسولین په بډی اخیستو سره تورن نه وه   اودهغو قضای مسولین  مسول شخص هراړخیزه اوپه قانونی بڼی سره څارل اوله هغه څخه پوښتنی  کولی  اوهم پرخپل دولتی مسولینو باندی بشپړ نفوذ درلودل.
یوه بل مطلب چی دهغه یادونه دلته ضرورګڼل کیږی دادي  چي  بین المللی اودامریکی دمتحده ایالاتو دقوتونو سرمشریزه  اداره  د نوموړی راپور  دوړاند یزونو په مقا بل کی بی پروایی وښودل اویا داچي دوسه یي پوره نه وه  اویا ونه توانیدل چي دنوموړی راپور

په وړاندې له خپل لوری څخه څه رنګ عکس العمل وښيي، همدارنګه دهیواد په د ننه کي ددفاعی قراردادونو د منجمنت د آژانس د مسول د هلی ځلی په نظر کی نیولو سره د داسی یو شکایت نقل قول تر لاسه شوی چی هغه اداره داسی په ډاګه کړی چی د لته نه د نظامی خد ما تو کوم سړی یا کوم تعقیب کونکی اویا کوم سامان الات اوتخنیکی تجهیزات نه دی ترسترګو شوی چی دفساد په مقابل کی ضد یت ښکاره کړی اوسی. په هرصورت ددی موضوع په اړه د افغانستان دداخلی وزارت د پا ره یو کارپوه اوماهر مشاور داسی وویل :چی دغه نقص یا کمزورتیا د قرارداد یا نو یا ټیکه دارانو ته داسی شرایط چمتو کړ چی هغوی په خلاص لاس هر هغه څه چي یی غوښتل ترسره کړی اودا پخپله دی ته پا تی کیږی چی یو اماتور دیو کارپوه اودحرفی لرونکی تجربه کار سړی سره مقابله وکړي.

ناقص یانیمګړی ترینګ اوضعیف یا بیکاره اهتما مات یا چمتوالی په دی معنی وی چی غربی مشا وران اونظا می افسران اساساً میلمستیا ته ناوخته راغلی اوسی ، په هرصورت دپورتنی ذکرشوی راپور پر بنیاد تر (۲۰۰۹) پوری دبډی اودفساد په اړه یوڅه کنترولی پاملرنه ترسره کیدل خصوصاً کله چی جنرال استنلی مک کریستا ل (Stanely McChrystal) دبا ند نی نظامی قوتونو سرمشری کول ،هغه دیو منل شوی ضد شورش د ستراتیژی په نظر کی نیولو سره پوهیدل چی دلته په افغانستان کی داسی یو مقام نشته چی بډی اخیستونکو ته سزا ورکړی اوداځکه چی همدغه بډی اخیستو نکو دلوړ پوړی مفسد اوبډی اخیستونکو دولتی واکدارانو تر امنیتی چترلاند ی سا تل کیدل .

په هر صورت د اداری فساد ا ود بډی اخیستلو پر ضد په کال (۲۰۱۰) کی په مجموعی توګه سره څلور ګروپونه سره په کار پیل وکړل ی ددی ګروپونو څخه یوه ګروپ د نظا میا نو ،دوه ګروپ دبین المللی شریکانو یوه ګروپ دخزانه داری یا د ما لی کارمندانو له دیپارتمنت څخه اوبله ګروپ دافغانستان ددولت له کارمندانو څخه وه. اما له بده مرغه چی داپورتنی ګروپونه په ډیر ندرت یودبل سره لیدل یعنی دهغو جلسات نه دایریدل اوداځکه چی هغوی له یو پلوه دفساد پر تعریف با ندی یو رنګ نظر نه درلود اودبلی خوا څخه ددی ګروپونو کارمندان اکثراً نظامی افسران وه چی دیوی لنډی مودی د پا ره ددی دندی دسرته رسولو دپاره تعیندل اوهم د هغو نوبتی جلسات له دی نه چی دګروپونو غړی زرزر بد لید ل نه د ا یرید ل لکه چی په دی ارتباط جنرال آلن (-Gen Allen)داسی وايي : له دی نه چی دغه ګروپونه خپل وظایف ترسره کړی داسی احساس کیدل لکه (۱۲ یوکلن جنګ یا 12 one year wars).

دبلی خوا حخه پرابلم اوستونزی کوم چي په ډیر لوړ سطح کی پروت وه اوپه هیڅ شکل سره دهغه جهت اومخه روښا نه نه وه چی د پرابلم د مینځه وړلود پاره یو واحد یامشترک کړنلاره غوره کړل شی نو په دی بنیا د دامریکی د سفیر مرستیا ل د قانون

دحاکمیت دپاره په یوه مرکه کی مشترک ستاد (یا درستیزوال ) ته وویل : د لته یوه کلمه یا لغت چی هغه ته ګډ وډی یا هرج و مرج وایی وجود لری چی نه باید له پا مه وغورځول شي اوددی مطلب په ارتباط د ضد فساد د ګروپ یومشر خپل نظر داسی وړاندی کړ : دلته د غرب له طرفه داسی یو قوی ځواکمن نشته چی باید په پراخه پیما نی سره ددی روان پرابلم په وړاندی د مسولیت داحساس په لرلو سره نه ستړی کیدونکی هلي ځلی ترسره کړای وای .

هغه لا څه چی دلته داوباما داداری لوړپوړی مقامات د یا ربا زی (flirted) ډیر تهاجمی موقف غوره کړی اودبلی خوا څخه دافغانستان جمهور ریس حامد کرزی دلج بازی په درلودو سره اصلاً دغه ګذارش کوم چی مو مخکی پری په تفصیل سره خبری وکړل نه قبلوی اویا دهغه دپا ملرنی نه جوګه کیږي هغه یعنی حامد کرزی په یوه خبری ناسته کی داسی غبرګون وښودل چی دهغه پر حکومت باندی دغرب له خوا ځنی ګمراه کونکی ریفورمونه وتپول شو اوله مجبوریته ځنی غربی وړاند یزونوته مو غاړه کیښود حال داچی د حامد کرزی لوی څارنوال دڅارنی دقانون په پیروی سره په ډاګه کړ چی دلته په افغانستان کی د ا مریکی د متحده ایالاتو د بین المللی توسعوی له دیپارتمنت څخه یوه رسمی مامور بده اخیستی ګوم چی زمونږ کارمندان هغه څارلی..

دپاملرنی بل مهم مطلب دا چی لوړ پوړی افغانی مقامات نه داچي د ریفورمونو د پلی کولو اودهغه دانطبا ق مخه نیسی بلکه له خپل ځانه څخه دریفورمونو پرضد مقاومت ښی یعنی هغوی بالمقابل په متقابل اقداماتو سره لاس پوری کړی دا هغه مطلب دی کوم چی دضد مواد مخدره مشاور په کال (۲۰۱۱) کی پخپله مرکه کی مشترک ستا د (درستتیزوال) ته داسی څرګند کړ: اوس ډیری افغا نا نو په دی با ندی ښه پوهیږی چی په افغانستان کی حالات څرنګه دی خصوصاً د سرشنا س اومشهوراشخاصو په موردکی چی له هغو څخه مشاورداسی نقل قول کوی: [ زه اوس په حرکت ولویدلی یم اوهرهغه څه ته چی می لاس رسی هغه له ځانه سره اخلم اوله افغانستان څخه اوځم ].

د یا دونی بل مطلب چی با ید پرهغه با ندی یوڅه تم شوهغه دا دی چی که د امریکی د متحده ایالاتو اطلاعاتی اژانس (سی آی ای ) دکرزی دفترته نقده پیسی ورکوی دا په دی مفهوم دی چی غواړی دکرزی همکاری اومناسبات له غرب سره لاپسی تینګ کړی اودایران د نفوذ مخه ونیسی اوله بلی خوا څخه داپخپله ځنی مواد دامریکی دمتخده ایالاتو د دوه مخی سیا ست (hypocrisy) د پا ره مواد برابروی . همدارنګه د درستیزوال په راپورکی راغلی اوهغه داچي په افغانستان کی امنیتی حالات ډیر خراب شوی اونظامی قراردادونه دمحلی ترانسپورتی شرکتونو سره داموالو اودتجهیزاتو د انتقا ل بیه داسی لوړ کړی لکه دامریکی دمتحده ایالاتو دتوغندی د تغولو د پاره دسوند د موادو د بیه یا دقیمت په شان .

دامریکی د متحده ایالاتو نظامیا ن د افغانستا ن دطا قت فرسا ګډ وډ یو«هرج ومرج» د نه په پام کی نیولو سره ګرم اوملامت دي : چی ددی ګډوډیو ځنی بیلګی ددی لیکنی په پای کی په ګوته کوو.

بالاخره غربی قوتونه په مکرربنی سره دامنیت د راوستلو اویاد فساد یا دبدی دسوری په بندولوکی کوم یوه مسولیت باید انتخا ب کړای وای ؟ لکه چی درا پورله محتوی څخه معلومیږی د امنیت راوستنه دغربی قوتونو لمړنی انتخاب وه حتی تر دی حده پوری چی دامنیت دراوستنی قربا نیا نو خیل ځا نونه دامنیت د تا مین په لاره کی قربان کړل بله موضوع چی په نوموړی راپور کی جلب توجه کوی دا دی چي په کابل کی« دکام پرهوایی خصوصی شرکت باندی تورولګول شو چی دمخدره موادو په ترافیک او قاچاق کی لاس لری » نوپه دی بنیا د امنیتی مسول مقا ما ت ددی موضوع د ثابتولو دپاره په هلی ځلی باندی پیل وکړل اما په ډیره چټکی سره د ځنو لوړ پوړودولتی مقاماتو له خوا موصوع معکوس شو یعنی داسی هدایت ترلاسه شو چی ددی موضوع د روښانه کولو روند باید ودریږی ، یا داچی په هلمند کی داسی راپورونه تر لاسه شو چی دهغه ولایت امنیه قوماندان د مخدره موادو دقاچا ق وړونکو سره اړیکی لری نو په دی بنیا د سره غربی مسول مقاما ت وتو انید ل چی نوموړی قوماندان له دندی څخه ګوښه کړی اما کله چي په هلمند کی امنیتی وضع خراب شو ، هغه ګوښه شوی قوماندان بیرته خپل وظیفی ته را وبلل شول ( لهذا دا پخپله ګډوډی نه دی ؟).

واشنګټن په وار وار سره خپل مرستی په یولړ شرطونو پوری تړلی دی اوهغه داچی باید د فسا د سره د مخکینی تاکل شوی مودی یاضرب ا لعجل په نظرکی نیولوسره په پوره پابندی او متا نت مبارزه وشي د جنرال سوپکو(Sopko) د خبرو په بنیاد : که چیری زمونږ دغه پورتنی شرطونه مقا بل خوا پرځای کړی مونږ چمتو یاستو چي د خپل کمکونه په لیږدولو کی بیړه وکړو .

« مونږ په واقعی بڼی سره لا تراوسه ستونزی اوپرابلم نه دی پیژندلی ، دا ریښتیا دی چی مونږ ډیرساده اوبی تکلف خلک یو داهغه څه دی چی جنرال نیک کارتر (Gen Nick Carter) په افغا نستا ن کی د غربی نظا می قوتونودقوماندان مرستیال اودبریتانیا دپوځ نومول شوی درستیز پخپل یوه مرکه کی داسی وویل :{مونږ دفساد اودبدی اخیستو په روند اوجریان کی پوره ونډه اوستر نقش لرو اوداځکه چی دالاردخپلو پیسو دمصرف کولو یوه ښه لاره دي، یا هغه لاره کوم چي مونږ دپیمانکارانو یا ټیکه دارانو سره قرادادونه کوو اودا ځکه زمونږ دلوژیستیک سیستم په خاطر.

دلته یو ښکاره سوال دادی چي ایا دامریکی دمتحده ایالاتو پوځ اویه همدی شان راپا تی تول نور دولتی کارکونکی پس له دی نه دغه درس یا لوست ته به پام واړوی؟ اوددی

گذارش یا راپورمحتویات اودهغه سیستمیک اصلاحی وړاندیزونو باندی به عمل وکړی؟ کوم چی عبارت دی له : دامریکی دمتحده ایالاتو د مستقیم کمکونو په اړه دفسا د پر ضد مبارزه دتصویب شوی قوانینو په رڼا کي ، دنظامی تریننګ د خد متونو کی اصلاح اوبهبودی راوړل ، اودپیمانکارانو یا نوروپرسونل سره دقرادا د مندرجا تو د پلی کولو پربنیاد قراردادکول اوبلاخره دپنتاګون دهغه مشهور رادیکا ل مفهوم څخه داستفادی وروړلو دلاربشونی پذ یرش په دی مفهوم سره ( پیسی دسلاح د یو سیستم په بڼه) کوم چی کمک رانیونکی مجبور اومکلف دی چی د کمک درانیولو د پا ره پخپل روش او رفتار کی دوضع شوی شرطونو پر بنیاد تغیر اوبدلون راولی .

دا لا تراوسه نه دی روښانه شوی چي ایا دلوی درستیز (مشترک ستاد) د لاسته راوړنی پایلی په افغانستان کی دامریکی دمتحده ایالاتو دنظامی قوتونو په کمښت څه تاثیر به وغورځوی ؟ اویا داچي به یولوی پایلی یا لاسته راوړنی دهغه څه د پاره چي واشنګتن غواړی دخپل دندو دپلی کولو لاره خپله کړی پرانځي ؟ ددی سوال د ځواب دترلاسه کولو دپاره په کلی توګه سره دپیشنهاداتودترلاسه کولو دپاره عامه نظر خواهی ته وړاندی شوی او لوی درستیز په لمړی سرکی دغه سوال دامریکی دمتحده ایالاتو دمرکزی فرماندهی(CENTCOM) له ویاندڅخه دځواب دترلاسه کولوپه منظور کړی دي په ایساف (ISAF) پوری تړلی ټول هغه وړاندیزونه ..په اوسنی حال کی دهغه دکارمندانو دبرنامو اود عملیاتونو داوسنی اود راتلونکي پلانونو ادغام او یوځای کول دی ..... اما دابه له وخته ډیر وړاندی وی چي پردغه وړاند یزونو با ندی بی له دی چی دا یسا ف دماهرانو له خوا تحلیل شوی نه وی تبصره اویا خپل نظر وړاندی کړو. داهغه مطلب دی کوم چی « کول پاتریک رایدر»(Col Patrich Ryder ) دامریکی دمتحده ایالاتو دفرماندهی مرکز ته څرګند کړ.

په هرصورت اوبالاخره دهوای ځواک ډګروال ادوارد دبلیو توماس ( Col .Edward W. Thomas Jr) دلوی درستیز دمقام ویا ند په پراخه بڼی سره دسوال ځواب داسی وړاندی کړ :« مونږ دهغه لاری په لټون کی یا ستو کوم چی دهغه په رڼا کی په پوره ډاډګیرنی سره هغه ټول وړاند یزونه په ګډی هلی ځلی سره دګډ وقوتونو دپرمختګ څرخ وڅرخوو. »

«مونږ په افغانستان کی دخپل عملیاتونو په اړه رنګارنګ اوځواړخیزی مطالعات ترسره کړل ،هغه یعنی توما س په یوه ایمل کی داسی لیکي : مونږ د خپل ځان دډاډګیرنی دترلاسه کولو دپا ره ځان مجبور ګڼو چی هغه درسونه که بنه دی اوکه بد په صحیح توګه سره دخپل راتلونکی د پاره زده کړو او مونږ با ید چی دغه موضوع ډیر جدی وګڼو .

په درناوی